صلاح الدين سعيدى ۲۰۱۹/۰٦/۱۳

# د سولې د پروسې پېچلتیا!

د افغانستان د جمهور رئيس امنيتي سلاكار جناب حمدالله محب په خپله ځانګړي روستى تلويزيونى مصاحبه او خبرو اترو كي د وطن د سولې او حالاتو برخه كي په ريښتيا خپل ملي او وطني مواضع په پوره درايت او تدبر بيان كړې .

خو دا چې ولې دوی او بيو شمېر نور د افغانستان د سولې د پروسې په پېچلتيا معتقد دي او جناب محب د پاكستان او د افغانستان د اړيكو په برخه كي د پاكستان ارادې ته اوس خوشبين ښكاربده ماته معمايي او غير واضح او يا ټاكنيز مجبوريتونه او تأكيدات ښكاره شول .

ما سره د جناب محب د افغانستات د سولې د پېچلتيا پر تأكيد ډېرې پوښتني او يوه خاطره را ياده شوه او لا په دي فكر كوم چي د جناب محب د افغانستان د سولې د پېچلتيا نه موخه او هدف څه وه او څه دی؟
د پېچلتيا تر نامه لاندې جناب محب څه مفهوم رسول غواړي او څه غوښتل؟
څه يې په زړه كې دي او څه مالومات لري چې دا پېچلتيا نه شي آسانه بيانولای؟
د افغانستات د سولې برخه كې د پروسې پېچلتيا څه كې ده؟
زما په آند دلته د عامي قاعدې سره سم، د سياست د الفباء سره سم د ګټو، مصالحو او منافعو خبر ده او دا وسله او دا جګړه پردې جګړه ده.

دافغانستان د استقلال له حصوله روسته او له افغانستانه د روسانو د پوځي حضور نه روسته ( ۱۹۸۹م) دا جګړې نوې ابعاد پيدا كړل چې بيا هم د نورو ګټې او د نورو توپک او د نورو د موخو حصول او د افغان وژني او افغان د قرباني واقعيتونه په كې نغښتي وه او دي. نو پېچلتيا يې څه كې ده؟
زه يو وخت د كابل د ده سبز ابتدايه محكمې كې غړى وم او د ده سبز د ولسوالى محكمې ودانى د كابل په بي بي مهرو كي وه. مونږ د دې ابتدايه محكمې رئيس، قضايي غړي ، محرران او د محكمې چپراسيان (خدمه) لرل.

محكمې كې به مو د نورو قضايى چارو سره سره د مختلفو وثايقو كار هم كاوه. اقرارخطونه، وكالت خطونه، حصر وراثت، د ميراث مسايل، نكاحنامې او داسې نور مدني او جزايي مسايل د كار مختلفي برخي وې.

ما دنوې قاضي په توګه دې تولو عرصوكې په تول سرعت او الله (ج) حاضر او ناضر دى چې په ايماندارى كار كاوه.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

محکمي ته به د خلکو د مراجعي سره سم د محکمي رئیس قضیه واخیسته او بیا به یي د محکمي یو یا دوه قضایي غړو ته  د هغه کار د اجراء دنده وسپارله.

د محکمي قضایي غړي به چي یو یي زه هم وم د سپارل شوي دندي شرعي، قانوني او قضایي برخه اجراء او خلاصه کړه او بیا به د محکمي محرر (کاتب) را وغوښت چي د کار تخنیکي او کتابتي اړخ لپاره زمونږ یعني مربوطه قاضي له خوا اجراء شوای کار د تخنیکي لحاظه بشپړ کړي. د معمول سره سم به مراجعینو د کار د تخنیکي اړخ د اجراء د قضایي بخش له ختمه روسته معلومات غوښتل.  قاضي به محرر ته مخ کړ چي څومره نور کارونه او وثایق د لیکلو لپاره لري؟ او څه وخت دا وطنوال خپل سند د اخیستو لپاره راشي؟ محرر به ماته وکتل، بیا به مراجعه کوونکي ته وکتل او د سترګو لاندې چپراسي کاکا عبدالله ته وکتل او بیا به را غبرګ شو: بیادر کارت میشه خو کم مشکل داره!

## وروره کار به دې وشي خو لږ پیچلتیا لري!

## ما به پوښتنه وکړه چي څه پیچلتیا لري؟

محرر به ځواب شو:

قاضي صیب: من حلش میکنم کمي مشکل داره! لږ پیچلتیالري!

او دوی به لاړل او بیا به یي کار حل وه.

درې څلور میاشتي روسته چپراسي کاکا عبدالله راغئ او راته یي غوږ کې غلي غلي  وویلي:

قاضي صاحب: میداني زمانیکه محرر صاحب به مراجعین میګوید: کارت میشه خوکم مشکل داره،

کار دې کیږي خو لږ پیچلتیا لري !

چه معنا داره؟

جواب مي ورکړ، هو پوهیږم. متعجب شو او پوهېده چي نه پوهیږم خو بیا یي هم په ځانګړي ارادت پوښتنه وکړه:

بګو هدف محرر چیست که میګوید:

کارت میشه خوکم مشکل داره !

کار دې کیږي خو لږ پیچلتیا لري!

ورته مي وویلي. چي محرر نور وثایق لري او نور کارونه لري چي هغه خلاص کړي بیا ددې کار کوي.

چپراسي کاکا عبدالله په خندا شو او راته یي را غبرګ کړل:

قاضي صیب جوان هستي و تجربه نداري:

مشکل ( پیچلتیای) که محرر پیش شما به مراجعین میګوید و بعد به اطاق محررین برای مراجعین  میرساند همان رشوت است که به مقدار وسیع و بلا استثنا از تمام مراجعین میګیرد و شما خبر ندارید!

ګواکي سترګي مي د سر له کاسي ووتي او سم د لاسه مي د محرر خوني ته ور ننوتم. له ناستو مراجعینو سره په خبرو او د مشکل حل مي وکړ، لږ موده روسته مو محرر تبدیل کړ او په پیچلتیا د خبرې بیا پوه شوو.

نو اوس د جناب محب د سولې د پیچلتیا مرکزي بُعد او اړخ کوم دی؟

او دا د سولې د پروسې پیچلتیا کومه ده؟

د افغانستان د سولې د پروسې او د سولې یوه پیچلتیا په کې مهمه ده او شته چې جناب محب يې شايد له ویلو عاجز وي او هغه داچې د جګړې، د ترور، د دهشت، د خودکشه، د انتحار، د انفجار، د ټوپک سالار او د نارامی شتون دی چې زه يي متقاعد کړای یم چې د دنیا، د بهرنیو د پوځونه او د امریکایی پوځي اډو او پوځونو شتون افغانستان کې زما په اړتیا بدلوي او ماته د هغوی د شتون سره د منطقي اړتیا منطق تحمیلوي .
نو که ددې اړتیا او ددې پیچلتیا لاملونه لیرې شي نو بیا به د بهرنیو د پوځیانو اډې او حضور ته، زما په خاوره کې اړتیا نه وي.

ددې حالت بل اړخ او منطق دا دی چې داسې ځواکونه شته چې ددې خطرو سره ما مواجه ساتي او دا ددې سبب کیږي چې پر خپله خاوره او خپل وطن په خپل لاس او خپله خوښه د پردو پوځیانو حضور او اډې په یو ډول توجیه او مبرر يې ومنم. په دې توګه د خپل وطن استقلال، ځمکنی او هوایي حریم او واک د بل لاس کې پاتې کېدل ومنم.

هو دا ماته هغه مشکل، پیچلتیا او کړکیچ ښکاري چې ممکن د مختلفو لاملونو له کبله يې جناب محب ویل نه غواړي.
هو دا یو ستر او اساسي لامل دی.

که دسولې د پیچلتیا نه موخه دا وه نو بیا دا پیچلتیا او دا کړکیچ منم او دا پیچلتیا شته.

داسې پیچلتیا چې شته نو بیا به څنګه د افغانستان د سولې او استقرار لپاره دلته او هلته یو شمیر باسواده بې سواده څېړنکي!؟ او د امور مسوولین د افغانستان او سیمې د سولې او استقرار برخه کې د سیمه ایزې او نړیوالي اجماع تاکیدات لري .
هغه مې د طالب، داعش، ترور په تهدید ځان ته محتاجوي او زه ورنه زما د سولې اجماع غواړم. عجیب حالت ندی؟
هغه بن لادن او زاړه او نوي همکاران يې د خپل هېواد نه بهر او ډیر لرې په افغانستان او دغه سیمه مصروف کړي او که زما وطن کې سوله وشي نو تروریستان به واپس خپلو ځي او هلته به جهادي کارونه کوي، نو هغه لېونی دی چې د خپل مصروف دښمن مصروفیت کموي او ما سره مرسته وکړي چې زما وطن کی سوله راشي!
دا منطقاً قوي استدلال نه دی.
دوهمه مسأله چې د جناب حمد الله محب له لید لورو او خبرو له تاسې درنو لوستونکو او جناب محب سره شریکوم هغه د جناب محب نوی نظر د پاکستان د استابلشمنټ په هکله چې ګویا اوس د پاکستان د سیاست په برخه کې د افغانستان په متعلق خوشبینانه ښکاري .

بنیادي پوښتنه راولاړېږي داسې څه وشول او څه کیږي چې پاکستان دې د افغانستان په هکله بل ډول فکر وکړي او هغه دې د جناب محب د خوشبینی موجب شي؟ ماته داسې څه نه ښکاري او داسې څه په یقین نه وینم .

سیاست کې ګټې او مصالح دایمي دي،
سیاست کې خیر او خیرات نه شته،
سیاست رحم او خوشباوري نه شته،
سیاست کې عذر او زاری نه شته،

نړۍ او حتی امریکې پاکستاني ریاست دا د شرارت، درواغو، دوکې او دوه مخي ځاله پېژندله او هرکله به چې تېرو ۱۹ کلو کې د جدي تدابیر د نیول کېدلو آثار او علایم رانږدې کېدل نو پاکستان مکار به د یو څو ناټکو او دوکو عکسونو د اخیستو لپاره زمینه سازي و وکړه، د جناب حامد کرزي سره به یې د ناستو ولاړو میلې جوړې کړې او بیا به یې امریکې او نړۍ ته ښودلې چې دادی مونږ د افغانستان سره مشکلات حلوو، خبرې، ناسته ولاړې، تګ او راتګ کوو او تاسې مونږ ارام ته نه پرېږدئ او بې ځایه مداخلې کوئ.

دادې د جناب حامد کرزي پاکستان ته ۲۲ رسمي او لسهاو پاکستاني او افغاني سرانو ناستې ولاړو اصلي لاملونه.

لندن کې د بارډر منجمنت کمیټې توافق تأریخي تور د دوهم ګندمک تړون وه چې د جناب ح کرزي د حاکمیت وخت کې یوائې د کاغذ په مخ پاتې شو .

پاکستان د امریکې په قناعت ورکولو د نوې ګندمک د تړونو هڅې د طالب د سوټې تر فشار لاندې کول غواړي.

د عمران خان د اقتصاد محوره اړیکو تأکید د نواز شریف د عیني تأکیداتو سلسله ده چې پاکستاني پوځ او استابلشمنټ عملاً رد کړه. هو نواز شریف او نور د پوځ بره خپل ویش لرو او عمران خان د بجوه د لاس جوړ شوای حاکمیت دی خو د اوسني پاکستان د پښتنو مخکښو سیاسیونو د لمړي لاس د مخامخ مالوماتو پر بنیاد پاکستان ټولو هغه سیمه ایز اقتصادي ګډو پروژو مخو ته داسې خنډونه ایجاد کړي او ایجادوي چې یا له سره اجراء نه شي او یا د افغانستان له خاورې نه بل همسایه هېوادو نه تېرې شي .

پاکستان د افغانستان پرخاوره او د امریکې په توافق او مصرف د زرهای راکټو په اورولو د افغانستان او اوسني پاکستان ترمینځ له دې سیمې په زرهاو کلو میشت افغانان خپلو سیمو پرېښودو ته مجبور کړل او د جنرال زید حامد د برنامې سره سم د افغان د خاورې په داخل کې د اغزن تار په تېرولو او د پنځوس کیلو متري بفر ( فاصل ) زون په جوړولو په بریا په مخ ځي او ټول موانع ورته له مخې لیرې کیږي .

پاکستان استابلشمنټ د افغانستان دښمن وه، دی او دښمن به پاتې شي. دا حقیقت زمان ثابت کړای، جناب جمهور رئیس د خپل تأکید سره سم اتمام حجت هم کړای نو بیا دا د اوس د لوړې کچې سفر او نوې خوشبینیو لامل فهم زما له فهمه او سوې لوړ ښکاري. د مشخص او ځانګړې برنامې نه پرته پاکستان ته سفر جناب داکتر غني ته خطره، د ملت د خواست خلاف او د وقت ضایع کول دي .
دا طالب او امریکه نه ده چې د افغانستان کابل حاکمیت د سولې په مذاکراتو او نړۍ کې تجریدول غواړي او خپل ټول امکانات کاروي .

دا د پاکستان استابلشمنت دی چې په افغانستان کې به هر څوک د جمعور رئیس په توګه ومني داکتر محمد اشرف غني به د هغه د اقتصادي او سیاسي پروژو له کبله و نه زغمي.
د داکتر محمد اشرف غني د بندو، اوبو او سرکو پروژې او د هند او نړۍ سره اړیکې د پاکستان سور خط او پنجاب به له هرې ډامیتر غني ضد پروژې عملي کول او د حتی د فزیکي ضرر په رسولو دریغ و نه کړي. نو د انتخاباتي مبارزاتو د ضرورت سره سره زه پاکستان د جمهور رئیس سفر سفارښت نه کوم .

پاکستان او ایران په افغانستان کې هر جمهور رئیس او حاکمیت منلای شي خو داسي حاکمیت به ونه مني چي هغه د افغان بشري ځواک، معدن، لرگی، جلغوزي، اوبه او برق مهارولو غواړي او پاکستان یي په دي ٤٠ کلو کي د لمړي ځل لپاره د نورو نړېوالو افغان دوستانو سره لکه د هند په مرسته نړی ته تجرید او وشرماوه.

په تأکید ویل غواړم که څوک غواړي د افغانستان کړکیچ او کشالي ته د افغانستان، امریکي او نړی په گټه، د سولي او استقرار په گټه د پای ټکی ایښودل غواړي نو زما، د سلیم عقل او د امریکایی شنونکي او مشهور لیکوال مایکل روبین د روستي سپارښت سره سم دي جگړه د شر او فساد ځالي یعني پاکستان ته یوسي. که دا نه کوي نو اضافه کول غواړم چي د اوسني پاکستان میشته پښتنو، بلوڅو، سراېکیو او سندیانو سره دي مرسته وشي چي خپله خاوره او خپل وطن کي پر خپل سرنوشت، پر خپلو منابعو او پر خپله آبادیو خپله مسلط شي.

دا خلک او ملتونه پاڅېدلي او د پنجاب پر ضد ستر مقاومت او مبارزه رواني ده. همدا چي اخلاقي ، سیاسي او رواني ملاتړ یي وشي، دغه محکوم ملتونه ددي عزم، ټکل، اراده او توانایی لري چي خپلو انساني مقاصدو ته ورسي او نړۍ د مصنوعي، تپل شوي او د پنجاب د پوځ په زور د پاکستان په نامه یو ځای ساتل شوي ریاست له شره خلاص شي!

پنجابي ریاست دخپلې اجیرې اردو او پوځ په زور دتاریخ په اوړدو کي (وبښئ کوم تاریخ - اویا کاله خو تاریخ نه شو).

پاکستاني ریاست د چین غبرې ته غورځېدلای او اوس له نړی او امریکي په نامردۍ جزیه اخلي.

پنجابي ریاست ترور او دهشت تولیدوي او خپل تجارت پرې کوي او نړۍته یي هماغسي چي د امریکي جمهور رئیس وویلي، دوکه ورکړې. دا پاکستانی دوکه لا ادامه لري.

دا د پاکستان ناکامي نه، بلکي بریا ده چي د ټولو فتنو او دهشت سره سره د شرارت په خاکستري لست کي شامل شوای. دی باید لا پخوا تور لست کي شامل وای!

دا د پاکستاني سیاست بریا ده چي د افغان حاکمیت، او امریکي حکومت د سولي د استازي زلمي خلیل زاد سره یي داسي کړکیچ ایجاد کړ.

دا حالت د افغانستان او امریکي په گټه نه دی . افغان او امریکایی لوري ته دې برخه کي د اړیکو رغولو وجیبه او ښکار ترمیمي قدمونو باندې عمل په کاردی .

بې پایانه پای